د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af*
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د کډوالۍ پر مهال د افغان فرهنګ ساتنه؛ ننګوني او فرصتونه

پوهنیار نورالله حقمل [1]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n7.2025

ISSN: 3078-9575 (Print)
ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸
تعداد صفحات: ۱۳
از صفحه ۱۱۳ تا ۱۲۵

## لنډیز

په دې مقاله کې د کډوالۍ پر مهال د افغان فرهنګ ساتنه؛ ننګونې او فرصتونو اړوند موضوعاتو ته سپړل سوې دي، چې کډوالي څه ته ویل کیږي او د کډوالۍ پر مهال افغان وګړي کومې فرهنګي ننګوني او فرصتونه لري. ددې څیړنې اهمیت په دې کې دی، چې لوستونکو ته په لنډ ډول د افغان کډوالو ستونزې ور وپیژني او تر څنګ یې حل لارې هم ورته په ګوته کړې، دا چې افغانستان تقریباً دا پنځه لسیزي کیږي د جنګ میدان پاته سوی دی، نو ځکه یې وګړي د لوی شمیر ګډوالۍ شاهدان دي. په کډوالۍ کې ځینې وخت داخلي بیځایه کېدنه رامنځته کیږي او کله نورو هیوادونو ته تر سره کیږي؛ نو د کډوالۍ پر مهال دا یوه حتمي خبره ده، چې د کډوالو فرهنګ یو ډول نه ډول تر اغیزلاندې راځي، خو تر څنګ یې یو شمیرفرصتونه هم رامنځته کیږي. ددې لپاره چې اړوند ننګوني او فرصتونه په ګوته او وپیژندل سي؛ د همدې مقالې په منځپانګه کې تر یوې اندازې را شپړل سوې دي، چې همدې مقالې موخه یا هدف تري څرګندیږي. نو موږ موخې د تر لاسه کولو لپاره مې د څېړنې د کتابتوني ډول له لارې د لیکوالو بېلابېل کتابونه او مقالې ولوستلې او یاده څېړنه مې د تشریحي کړنلارې په مرسته تر سره کړه.

**کلیدي کلمې: افغانان، کډوالي، فرهنګ، فرصت.**

[1] پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، اروزګان د لوړو زده کړو مؤسسه، ۰۷۰۸۳۴۳۶۸۷، noorullahhaqmal1@gmail.com

The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.
استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد